بسم الله الرحمن الرحيم

## د قرآنکریم ژبه او د هویت ساتنه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ» ژباړه: « يو داسي كتاب چي ايتونه يې په تفصيل سره بيان كړاى شوي دي او د عربي ژبې قُرآن دى د هغو خلكو لپاره چي علم لري؛»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.
و بعد:

ژبه هغه څه دي چې په ترڅ کې د خلکو فرهنګ او مفهومونه پري معلومیږیاو همدارنګه ژبه د هویت د ساتني لپاره یو بنسټیز عنصرګڼل کیږي او د انسان د شخصیت په ساتنه کې ډیره لویه اغیزه لري څوک چې کولی شي په دوو ژبو خبري وکړي نو په حقیقت کې هغه د دوو فرهنګونو ترمنځ جمع والي راوستي او څوک چې کولي شي په دریو ژبو خبري وکړي په واقعیت کې هغه د دریو فرهنګونو ترمنځ جمعوالي راوستي او څوک چې وکولي شي په دریو ژبو باندي خبری وکړي نو هغه د دریو فرهنګونو په منځ کې جمعوالي راوستي او کولي شي چې د ډیرو باعقلو شیانو فاید ترلاسه کړي خو مورنۍ ژبه تل یو مهم لامل دي چې د یو فرهنګ ساتنه پري کیږي څوک چې د خپلي ژبې په اسرارو باندي پوه نشي نشي کولاي چې د خلکو په فرهنګ باندي ځان درک کړي.

عربي ژبه یو بنسټیز ځانګړتیا لري او هغه ځانګړتیا داده چې د قرانکریم ژبه ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو ژبه ده او د پیغمبر صلی الله علیه سلم لویه معجزه همدا قرانکریم دی او پدي کې بیلابیل لغوي اسرار بیان شویدي چې انسانانو د توان څخه بهر دي لکه چې الله جل جلاله فرمایی:**« إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ»ژباړه:« موږ دغه کتاب، قُرآن په عربي ژبه نازل كړيدى، ددې لپاره چي تاسي (عرب) په ښه شان په پوه شئ.»، او بيا فرمايى:« وَكَذَلِكَ أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا»ژباړه:« او [اې محمده(ص)!] په همدې ډول موږ دغه عربي قُرآن نازل كړيدى»او بيا فرمايى:« قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ »ژباړه:« داسي قُرآن چي په عربي ژبه دى، څه كوږوالى په كښي نشته، تر څو چي دوى د ناوړه عاقبت څخه په ډډه شي.»، او بيا فرمايي:«وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِتُنْذِرَ أُمَّ القُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ الجَمْعِ لا رَيْبَ فِيهِ»ژباړه:« هو، په همدې ډول [اې پيغمبره (ص)!] دغه عربي قُرآن موږ تا ته وحيي كړى دى، تر څو چي ته د كليو د مركز (د مكې د ښار) او د هغه د خوا او شا اوسېدونكي خبردار كړې او د غونډېدو (قيامت) د ورځې څخه يې ووېروې، چي د هغې په راتګ كي هيڅ شك نه شته.» او بيا فرمايى:«بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ»ژباړه:« په روښانه څرګنده عربى ژبه كښي.» او بيا فرمايى:« لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلا تَعْقِلُونَ »ژباړه:« اې خلكو! موږ تاسي ته داسي يو كتاب لېږلى دى، چي په هغه كښي همدا ستاسي يادونه ده، ايا تاسي نه پوهېږئ؟».**

قرانکریم د عربي ژبي او د عقل ترمنځ ربط ورکړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ» ژباړه:« موږ دغه کتاب، قُرآن په عربي ژبه نازل کړيدی، ددې لپاره چې تاسي (عرب) په ښه شان په پوه شئ .» نومسلمانانو په قران باندي عمل وکړ او همدارنګه عقل يی استعمال کړ او يو داسی تمدن يی رامنځته کړ چې چا تری انکار نشو کولی همدارنګه الله جل جلاله د عربي ژبي او د علم په لوري د دعوت ورکولو ترمنځ ربط ورکړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ» ژباړه:« يو داسي کتاب چې ايتونه يې په تفصيل سره بيان کړای شوي دي او د عربي ژبي قُرآن دی د هغو خلکو لپاره چې علم لري؛» نوپدې سره يی امر کړي چې بايد علم ترسره کړي او تقوا حاصله کړي همدارنګه الله جل جلاله په بل ايت کې فرمايي:« وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ * قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ» ژباړه:« موږ په دې قُرآن کښي خلکو ته راز راز مثالونه بيان کړي دي، ښايي چې دوی پند واخلي.* داسي قُرآن چې په عربي ژبه دی، څه کوږوالی په کښي نشته، تر څو چې دوی د ناوړه عاقبت څخه په ډډه شي.» .

او هيڅوک دا انکار نکوي چې د قرآنکريم او همدارنګه د احاديثو او د دين يادول د عربي ژبي پوری تړاو لري او که څوک په عربي ژبي باندي پوه نشي نو په دين باندي په سمه توګه نشي پوهيدلي لکه چې عبدالله بن عباس رضی الله عنه وايی چې زه د دغه ايت په معنی نه پوهيدم چې الله جل جلاله فرمايي:« فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» ژباړه:« هغه خدای پريږدم چې د اسمانونو او ځمکي هستوونکی دی؛» ترديچې يو دوه بانده چيان مې وليدل چې د څاه په هکله پخپلو منځو کې اختلاف درلود يو يی وويلی چې دا ما ويستلي دي نو له هغه وروسته بيا زه په شومه چې ددغه کلمي معنی څه ده همدارنګه د اصولو او د فقه علماؤ هم ټينګار کړی دی چې عربي ژبه د اجتهاد لپاره يو له مهمو شرطونو د جملي څخه ګڼل کيږي او الله تعالی د حافظ ابراهيم ته ډير ښيګڼه په نصيب کړي چې د عربي ژبي په هکه ده څو بيتونه ويلي دی:

### د الله جل جلاله په لفظ او کتاب په داوړو پوهه باندي مي فکر وکړ ټول ايتونه د پند اود وعظ څخه ډک دي دا يو داسی بحر دي چې پدي کې مرغلري پټ دي نو آيا د مرغلرو په هکله د مانو ګانو څخه پوښتنه کړي ده؟

همدارنګه هيڅوک هم پدي باندي انکار نشي کولاي چې په عربي ژبه باندي نه پوهيدل او همدارنګه د هغه په نصوصو کې په ژور توګه باندي فکر نکول او همدارنګه په هغه نه پوهيدل او همدارنګه د هغه ظاهره معنی اخيستل بغير ددی چې د هغه په اسرارو دقت وکړي شي پخپله لويه خطا کې انسان واقع کوي او همدارنګه دا کله کله انسان دی حالت ته رسوي چې په غلطه سره د خلکو د وينو تويدونو جواز ورکړي نو د همدي لپاره په قران او په سنتو باندي پوهه لازم او فرض ده او دا ترهغه پوري نشي کيدلي ترڅوپه عربي ژبي باندي ځان پوه نکړي ځکه چې دا لازمي ده عمر ببن خطاب رضي الله عنه فرمايي چې عربي ژبه ياده کړي ځکه چې دا ستاسو د دين د جملي څخه ده او هغه په يو قوم باندي تيريدو چې د غشو ويشتل يی يادول خوهغوي خطا ويشتل نو هغوي پدي باندي ملامته کړ او وی ويل چې ستاسو ژبه ډير لدي څخه خرابه ده چې ستاسو د غشو ويشتل ترسره کوي نو د همدي لپاره په هغوي

یی ټینګار وکړ چې عربي ژبه سمه توګه سره ووایی او د ملک بن مروان هم وایی چې خپله ژبه سمه کړي او د یو انسان ښایست بدي کې دي چې هغه په سمه توګه سره خپله ژبه ووایی.

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

بی له شکه چېد قرانکریم ژبه چې عربي ژبه ده د امت د تراثو ساتنه کوي او همدارنګه د فکر کلتور ساتنه یی د تاریخ په اوږدو کې کړی ده او د امت همیشه والي فکر یی کړی دی او د امتونو شتون د هغوي د ژبې د شتون سره تړلی دی هغه امتونه چې د هغوي ژبه لمنځه تللي ده د هغو کلتور هم لمنځه تللي دي نو د همدي لپاره په ژبه پاملرنه د هویت د ساتني لپاره یو مهم عنصر ګڼل کیږي ژبه پخپله د صف د یووالي او د فکر د یووالي لپاره استعمالولی شو او همدارنګه ژبه د هر امت او کلتور د ساتني لپاره مهمه کلتوري عنصر ګڼل کیږي.

مونږاو تاسو ټول دیته اړتیا لرو چې ویښ شو او دټولو هغو هڅو په وړاندي مقاومت وکړو چې زمونږ هویت لمنځه وړي او همدارنګه په جدي توګه د خپل تمدن د ساتني لپاره کار وکړو چې په ترڅ کې د قرآنکریم د ژبې ساتنه وشي او هغه زمونږ د هویت یوه کلي ده او د هغه ساتنه او پیاوړي کول ددی لامل کیږي چې د هویت ساتنه وشی او د هغه خدمت داسی دي چې ګویا ددین او د وطن خدمت وکړي.

## الله د مصر او د نړۍ د ټولو هیوادونو ساتنه وکړی.